مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آريا

۲۰۲۶/۰۶/۱۹

# د افغانستان بايوګرافيکي قاموس
## دوهم ټوک
(پنځه اتيايمه برخه)

### احمد ضياء قاري زاده

د قاري دوست محمد زوی په ۱۹۲۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د نجات په ليسي کې ئې زده کړې کړي دي. د شايق آفندي په ګډون له نورو بېلابېلاو استيدو سره ئې د ادبياتو په ډګر کې څېړنه کړي ده. د اقتصاد د مجلې/ مجلـهٔ اقتصاد د تحرير د هيئت غړی. د تأريخي ټولني غړی. په ۱۹۵۵ز کال کې په ترکيې کې مطبوعاتي اتشه. په ۱۹۵۶ز کال کې د افغان تياتر رئيس. د مطبوعاتو د رياست ادبي سلاکار. شاعر او د ګڼ شمېر آثارو مؤلف.

### نور محمد قرقين

د غوايي له پاڅون وروسته د علومو په اکاډيمي کې د ترکمني ادبياتو د مديريت مدير.

### حسن قاسم

په ۱۹۴۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د کابل په پوهنتون کې ئې ژورناليزم لوستی دئ. د راډيو افغانستان انونسر. د «افغان تور»[1] د سيلانيانو رهنما. د ګرځندوی[2] د خپروني محرر. اقتصاد ئې په برتانيي کې لوستی او په ۱۹۷۳ز کال کې ورڅخه فارغ سوی دئ. اشعار او لنډ داستانونه ئې د هېواد په ګڼ شمېر مجلاتو او ورځپاڼو کې خپارهٔ سوي دي.

### استاد محمد قاسم افغان

د «استاد ستارجو»[3] کشميري زوی په ۱۸۸۱ز کال کې زېږېدلی دئ. استاد د شلمي پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې په افغانستان کې تر ټولو ښـهٔ او ډېر مشهور موسيقي پوه او سندرغاړی وو. ګڼ شمېر شاګردان ئې درلودل. د امير حبيب الله خان د سلطنت له لومړيو ورځو څخه دی د دربار سندر غاړی وو. د اعليحضرت امير امان الله خان ډېر خوښ وو. د هندي موسيقي په چوکاټ کې ئې د افغاني موسيقي بنه رامنځته کړه. په ۱۹۵۷ز کال کې وفات سو.

### اختر محمد قاسميار

[1] - Afghan Tour : تور په انګليسي کې د سياحت او ګرځېدلو يا سياحت په معنی دی. - ژ
[2] - Garzandoi
[3] -Ustad Sattarju Kashmiri


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د میرنام زوی په ۱۹۵۵ز کال کې د پکتیا په خوست داخې [4] کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۲ز کال کې د نادر شاه کوټ په ښوونځي کې شامل سوی دئ؛وروسته د پکتیا په خوست کې د سربن [5] په لیسې کې شامل سوی او په ۱۹۷۳ز کال کې فارغ سوی دئ. بیا د کابل پوهنتون د طب پوهنځي ته تللی او په ۱۹۸۱ز کال کې فارغ سوی دئ. بیا پاکستان ته لاړ او د ملګرو ملتونو د UNHCR په کمپ کې ئې د طبي افسر په توګه کار وکړ.

## عبدالرؤوف قتیل

د محمد سرور زوی په ۱۹۳۴ز کال کې د ننګرهار په خوګیانیو کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۵ز کال کې ئې خپلې لومړۍ زده کړې بشپړې کړې؛ وروسته دیني مدرسې ته لاړ او بیا د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي ته لاړ. په ۱۹۵۳ز کال کې د سلطان غیاث الدین په ښوونځي کې ښوونکی. په ۱۹۵۴ز کال کې د بلخ د ښوونځي سرښوونکی/ سرمعلم. په ۱۹۵۵ز کال د ننګرهار د معارف په ریاست کې مفتش. په ۱۹۵۷ز کال کې د ننګرهار د لیسې مرستیال مدیر. په ۱۹۵۹ز کال کې د ښوونځي ښوونکی. په ۱۹۶۰ز کال کې د ابن سینا په ښوونځي کې د پښتو ژبې ښوونکی. په ۱۹۶۱ز کال کې د معارف په وزارت کې د پښتو په دیپارتمنت کې د پښتو ښوونکی. په کابل کې د خپرېدونکي خپروني (زیري) محرر. په ۱۹۶۶ز کال کې د «پوهني د مجلې» مدیر. د هېواد د ورځپاڼي د خبرني د څانګې مدیر. لیکوال او شاعر.

## سردار عزیز الله قتیل

د سردار نصرالله زوی په ۱۸۹۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دی. د امیر امان الله خان پر مهال د احصائیې د ریاست رسمي کارمند. په ۱۹۳۰ز کال کې د تهران سفیر. د کابل د ادبي ټولني افتخاري غړی. شاعر. په ۱۹۳۵ز کال کې وفات سوی دی. د زامنو نومونه : عبدالرزاق، عبدالحکیم، عبدالرحیم او عبدالعظیم ضیأیي.

## عبدالصمد قیومي

په ۱۹۸۲ز کال کې د معارف وزیر

## قاضي میر محمد غوث

د میر محمد علم زوی؛ ( میر محمد علم : د دِهٔ افغانانو د میر محمد عزیز زوی). دودېزې زده کړې ئې تر لاسه او په سنګ چارک او وروسته په ننګرهار کې قاضي سو. په ۱۹۲۳ز کال کې د ۷۵ کالو په عمر وفات سو. شاعر او ماهر موسیقي پوه.

## احمد حسن قریشي

د مولانا یعقوب حسن زوی په ۱۹۲۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. خپل لیسانس ئې د کابل پوهنتون د ساینس له پوهنځي څخه او ماستري ئې په ساینس او بایولوژي کې د کولوراډو له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۲ز کال پورې د ابن سینا په ښوونځي کې ښوونکی او له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د نادریې په ښوونځي کې ښوونکی. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د ښووني او روزني د پوهنځي د ښووني او روزني د انستیتیوت اکاډیمیک

[4] -Khost Dakhi, Paktia
[5] -Sarban High School in Khost


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

غړی. د ښوونې او روزنې د پوهنځي د بایولوژي، ریاضیاتو او ساینس پوهنیار. د ښوونې او روزنې د پوهنځي د ریاضیاتو او ساینس د ډیپارتمنټ رئیس. د منځنیو ښوونځیو لپاره د بایولوژي د مضمون د تدریسي کتابونو د ارزونې د کمېټې رئیس. مؤلف. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

## مولوي محمد امین قربت

د غیاث الدین علم زوی په ۱۹۱۰ز کال کې په بخارا کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۲ز کال کې افغانستان ته راغی. مشهور شاعر او اسلامي عالم.

## برهان الدین رباني

د محمد یوسف زوی، په ۱۹۴۰ز کال کې په فیض آباد کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې په فیض آباد کې په لومړي ښوونځي کې شامل سو، ورپسې کابل ته راکډه سو او د ابو حنیفه په ښوونځي کې (چې د دارالعلوم شریعت په نوم یادېدهٔ شامل سو او له لومړۍ ځانګې څخه ئې فارغ سو. وروسته د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي کې شامل سو او له څلورکلن تحصیل وروسته په ۱۹۶۳ز کال کې ورڅخه فارغ سو. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د شرعیاتو په پوهنځي کې مدرس. په ۱۹۶۸زکال کې ئې خپله ماستري د الازهر له پوهنتون څخه واخیسته او د دکتورا په پروګرام کې ثبت سو. افغانستان ته له راستنېدلو وروسته د کابل پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي د فلسفي استاد او د کابل پوهنتون د څېړنې د دیپارتمنت غړی سو. په ۱۹۷۰ز کال کې ئې د دریو میاشتو لپاه له تورکیې څخه لیدنه وکړه. په ۱۹۷۰ز کال کې د (مجلهٔ شریعت) محرر. په ۱۹۵۷ز کال کې له هماغه پیل څخه د اسلامي غورځنګ غړی. په ۱۹۶۸ز کال کې له مصر څخه له راستنېدلو سره سم د پوهنتون محصلین ئې د (جمعیت اسلامي افغانستان) د عالي شورى لپاره سمبال کړل. برهان الدین رباني په ۱۹۷۲ز کال کې د نوموړې شورى د ۱۵ تنو غړو له پلوه د جمعیت د لاربنود مشر په توګه وټاکل سو. په ۱۹۷۴ز کال کې د نیول کېدلو له منګولو وتښتېد او په قبائیلي سیمو کې مخفي سو. د غوایي له اوومې (د ۱۹۷۸ز کال د اپریل له ۲۷ وروسته کله چې مارکسیستانو واک ونیوهٔ رباني باندني سفرونه وکړل. په ۱۹۸۰ز کال کې ئې په اسلام آباد کې د اسلامي هېوادونو د باندنیو چارو وزیرانو ته وینا وکړه. په ۱۹۷۹ز کال کې ئې د افغانستان د آزادۍ لپاره د اسلامي اتحاد په جوړولو کې برخه واخیستله. د یو شمېر آثارو مؤلف.

## محمد رحیم رفعت

د آریانا افغانستان د مجلي د نشراتو عمومي مدیر. د انیس د ورځپاڼې سرمحرر. د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ په میاشت کې د کابل نیو ټایمز د ورځپاڼې سرمحرر. د ولسمشر تره کي لپاره د انګلیسي ژبې شفاهي ژباړونکی. په ۱۹۸۰ز کال کې د محمود بریالي اسیستانت.

## ډاکټره محبوب سراج رفیق [6]

(په فارس او تورکیې کې د پخواني سفیر) اسدالله سراج لور او د اعلیحضرت امیر حبیب الله خان لمسۍ په ۱۹۳۳ز کال کې زېږېدلې ده. زده کړې ئې د ملالۍ په لیسې کې کړې دي. (کله چې پلار ئې په انقرې کې سفیر وو) دې په انقرې

6 -Raifq,Mahbub Saraj


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کې خپله دکتورا په ختیځ پېژندنه/ شرق شناسي کې تر لاسه کړه. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۶ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت د وزیر ددفتر مشره سکرتره [7]. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت د پروتوکول سرپرسته مشره. د اقتصاد د عالي شورى له غړي ډاکتر احسان رفيق سره ئې وادهٔ کړی او درې بچیان لري. د امریکا په متحده ایالاتو کې اوسېږي.

**نور بیا**

## ډاکتر محمد احسان رفيق

د پلان د وزارت د خصوصي تشبثاتو د رئيس، محمد یونس د ورور محمد عمر رفيق زوی په...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک]

[7] -Chef de Cabeinet


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ